مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۲/۱۰/۱۸

# لیک:

## خواهش!

لګیا یم، بلکې فلج وهلی ناست یم، غواړم غرنی شور ولرم او د سیندونو مستي پیدا کړم؛ خو زه بیخي لکه د توري شپې سقوط شوی ښار داسي یم، چي له سکوت او چوپتیا پرته هیڅ نه لري. ان خاموشي یې هم کله ناکله ماتیږي او سپې پکې غاپي!

غواړم ډېر څه ولیکم. د ملګرو بې رخي، د بادار ناکردي او د وګړیو هغه جبرونه چې هره لمحه یې وینم او دوی یې شبېه په شبېه زغمي! نه پوهېږم حوصله ورته ووایم او که بزدلي؛ ځکه زما تر تجزیې او تجربې لوړ دي. خو دومره پوهېږم چي حاکم له رعیته د خو ډوله اهلي حېواناتو کار اخلي او ولس هم په دې پوهیږي؛ خو ټول توان یې دومره دی چي پس پسکو کي بادار ته ښکنځل وکړي. داسي څوک نه دي پاتي چي خپل مشر په جار وپوښتي، حق تري وغواړي او د عدل په ترلاسه کولو کي یې ګریوان ته لاس ور وړي.

دلته خو اوسني ایله په پخوانیو برلاسه شوي. هغه پخواني چي یو وخت نوي و او اوسني یې وژل. د دوی زړونه لا هم یخ شوي نه دي.

زړه مي هغه هنداره ګرځېدلي چي د ژمي سره ګردله (لړه) پرې پرته ده او یا د بادرو سپېرو بادونو مخ ور اړولی؛ نه پرېږدي، چي هنداره خلک وویني او خلک هنداره! بیخي همداسي یم! زړه مي نه پرېږدي چي ارام کېنم؛ خو د یو څه کولو اراده او ځواک هم را نه اخلي او له هغې راتلونکي مي ویروي، چي زه لا پرې اخته نه یم!

اه؛ اضطرابه! بیخي دې ګډ وډ کړم! ان خپل شینډل شوی ریزه، ریزه جسم راټولولی نه شم !

حالت مي هغې هندۍ پیغلې ته ورته دی، چې د ګنګا او جمنا سیندونو په غاړه ګرځي او برساتي بادونه یې ګڼ خلاص وېښته یو او بل لور ته وړي او پیغلوته چي څومره لاس ور وړي؛ بیا هم نظم نه مني د یاغي توب ځپې خوند ورکوي او د هواړېدلو، نرمېدلو او سمېدلو نوم لا نه اخلي.

یا ښایي هغې کلکې ډبرې ته ورته یم، چي ماشوم پرې چارمغز او بادام ماتوي. زه ګورم چي نور مي غلې خوله نه شي برداشت کولی او زما دایمي چوپتیا یې ځوروي؛ مګر بیا هم تیره یم؛ هیڅ نه وایم، نه درک لرم او نه هم په څه پوهېږم؛ څومره چي ځان او نور دردوم، په پټه خوله تري تیرېږم او کوم غبرګون نه ښیم، چي دا ولي؟ کله؟ او څنګه؟ د غږ نه کولو لامل یې دا دی چي د هري تراژیدي په سبب پوه شوی یم، خو په خپلې ګونګتیا نه پوهېږم؟!

کله، کله مي زړه غواړي په توره شپه له خوني ووځم، تر سهاره یخ نسیم ته کېنم او ښه په زوره، زوره وژاړم؛ دومره چي له حلقه مي د وینو یوه تېره داره را پورته شي او خاوري یې ځان ته جذب کړي؛ خو ویریږم، چي پالوونکي ذات ته کاتبي ملایکي زما دغه عمل ناشکري، د ځان وژنې هڅه او نه ښنوونکې ګناه ور معرفي نه کړي؟!

ځیني شیبې داسي راشي، چي دماغ مي حېرانونکو لارو ته ور سوق کړي؛ په هغو شیانو سوچ وکړم، چي هیڅ مي په توان کي نه دي، حتی کله مي یې د ترلاسه کولو او د ځینو، ځینو په له منځه وړلو فکر هم نه وو؛ کړی. مګر اوس ...

اوس غواړم، ځیني افساني رښتیا کړم؛ یا د خپلې ګلبشرې طالب جان شم او یا د شیرینو فرهاد. خو کله هم چي د افساني پای ته رسیږم؛ ځان را ته هغه لوبغاړی ښکاري چي د لوبې وروستیو ثانیو کي خپله ماته په رډو سترګو ګوري او هیڅ نه شي کولی؛ یوازې اوښکې وڅڅوي او یا یې له ستوني هم ښکته کړي؛ څو د زمزم اوبه تري جوړ شي او د ده اندروني لاوا ووژني.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له لاوا پوري راياد شو؛ له خپل ښوونکي مي د ۱۰ ټولګي په جيولوژي ساعت کي اوريدلي و، چي دا د نه سړېدونکي سکروټې په معنا ده. که داسي وي؛ نو نن سبا خو زما زړه بيخي لاوا دی؛ د لرغونو اتش پرستو معبد ترې جوړ دی، چي دننه يې اور نه مړ کيږي او يا ښايي زه يې په لا شعوري توګه مړيني ته نه پرېږدم؟!
چي اوږده خاموشي مي بيخي زړه تنګی کړي؛ بې هدفه او غير ارادي کارونه پيل کړم. موبايل را واخلم، انټرنيټ ګل او چالان کړم، خو خوند ترې وانخلم. کوم کتاب ته لاس کړم؛ مګر پاڼي يې راته بې مفهومه شي. ساز ته مي زړه وشي؛ خو هيڅ مي زړه تسکين نه شي. قدم وهل پيل کړم، د ګلانو په لور ورشم؛ مګر دا هر څه ستړي کوونکي شي. يوه شېبه له ستورو ډک اسمان ته وګورم، د سپوږمۍ سپين مخ ته سندره ووايم؛ خو دومره بې سر او تاله راته ښکاره شي، چي خپل غږ په نيمه کي خپ کړم .
څه ووايم؟
هيڅ هم نه شم ويلی!!
د ښار سکوت، د يتيمانو اهونو، د سوالګرو چاودو لاسونو، د ورارو لوڅو پښو، وږيو نهرو نسونو، د غريبو لوڅو بدنونو، د کونډو اوښکو، د کنډوالو نړېدلو ديوالونو او د معلولينو دردېدلو هډونو را نه د ليکلو طاقت وړی دی. څو ځله مي له خدايه وغوښتل چي حواس مي را نه واخلي، چي نه ظلم ووينم، نه فحش واورم، نه د وينې بوی راشي، نه تريخ او تروش وخورم او نه هم کومه نادوده حس کړم.
تر دي حده جنوني شوی يم، چي خپله مي ځان ته په ژوندوني قبر جوړ کړی او يو اوږد دري رنګه کفن مي هم اخيستی، مګر ښاريانو ته مي وصيت پرېښی، چي زما کفن لکه ملي بيرغ داسي نه کړي؛ بلکي د هغي سرچپه دي وي؛ ځکه زه په يو ښېرازه چمن کي پيدا شوم، چي زما په وينو يې سور کړ او اوس په يو تياره ماحول کي مرم! نو پکار ده، چي د کفن رنګ مي هم لومړی زرغون شين، بيا سور او وروستيو کي تور رنګ ولري.
اخ؛ وخته! ته څومره بې اعتنا شوی يې؟! داسي تېرېږي لکه هيڅ چي سره نه پېژنو. زه دي تم کېدل نه غواړم؛ دا زما او ستا له وسه پورته ده او په دواړو د يو بل واکدار راج چليږي؛ مګر دا دي له وسه پوره ده، چي ما هم ځان سره واخلي؛ تر څو د ضمير له بوجه او د احساس له عذابه خلاص شم!!!

يو امانت دي بېرته تا ته سپارم
له يو درانه بوج څخه ځان خلاصوم!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ